«آقاي مارتین ژورنالست مصاحبه کننده بامارکس مي گوید من بکلي متعجب گردیده بودم که چگونه مارکس حاضر شده است چنین صادقانه حرف بزند لهذا جروت گرفتم وسوالاتم راواضح ترمطرح ساختم».

س : آقاي مارکس درمقابل همه آنچه که ازجانب مارکسیزم بعمل آمده است شماباید لااقل تاحدي مسئول شناخته شوید؟ زیراواضحاً نقط نام شمابودکه بخاطر هرعمل غیرانساني مارکسیست هاپه آن استدلال مي شد وبه آن اتکاصورت مي گرفت.

ج : درست است من معتقد به جبرتاریخ واجتناب ناپذیري درسوسیالیزم هستم ولي شمانمیتوانید مرامسئول فجایع ومظالمي بدانیدکه درزمان ستالین علیه ادیان صورت پذیرفت.

س : شما درنوشته هاي خویش تاکید نموده اید که سوسیالیزم پایان اجتناب ناپذیرکاپیتالیزم خواهدبود وکاپیتالیزم یانظام سرمایه داري خواهي نخواهي به سوسیالیزم مبدل خواهدشدولي چنین نشد ، نظرتان چطوراست ؟

ج : من اکنون آن نظرم راپس گرفته ام ومعتقدم وقتي یك زمان فرارسدبعدازآن بایددرمورد ضرورت ها ومقتضیات آن عصر غوروتحقیق شود. من این نظرخویش رایك اشتباه مي پندارم وفکرمي کنم مانقط یك جهان خیال سوسیالیستي راساخته بودیم معتقدم که شناخت دلیق کاپیتالیزم مهمتراز طرح هاي خیال سوسیالیزم است.

درین فرصت چون آقاي مارکس راخیل خسته یافتم تصمیم گرفتم تاگیلاسي مشروب به اوتعارف نمایم ولي ابتداء باالحن شوخ آمیز ازاوپرسیدم آقاي مارکس آیابهترنیست مشروبي برنگ سرخ به شما تهیه نمایم زیرا قرارمعلوم شمابه این رنگ علاقه خاصي دارید.

مارکس : نه نه من دیگر ازرنگ سرخ نفرت دارم زیرامن بادرنظرداشت اوضاع آنوقت این رنگ رابمنظوردفاع از خون مظلومان جهان ، سمبول مبارزات خودساختم ولي اخلاف ناشناخته من این رنگ را بخون مظلومان جهان سرخ ترساخته است لذااین رنگ درنظرمن کیفیت اول اش راازدست داده است.

س : چنانچه نوشته هاي شما گواهي مي دهد شما درموردسرمایه داري دوپیش بیني داشتیدیکي اینکه سرمایه بطور فزاینده تزدسرمایه دارتمرکزیافته ودرنتیجه کلاً به یك طبقه تخصیص خواهدیافت ودوم اینکه کارگرازه صنعتي بشکل سرسام آوري افزایش یافته وهسته جامعه سوسیالستي راخواهدساخت ، ولي این قضیه نیز چنین نشد حتي طبقه کارگران صنعتي ازرمان سابق هم کاهش یافت درمورد چه تبصره میتمائید ؟

ج: بازهم برطبق آنچه که قبلاً گفتم این پیش بیني ام نیز قبل ازوقت بوده . وقتیکه من ازدنیارفتم قضیه چنان بودکه من تشخیص نموده بودم ولي اینوضع بعدازسالهاي دهه ۱۹۵۰ تغیرنموده چه بااختراع ماشین هاي جدید چون کمپیوترامورصنعتي طوری تنظیم یافت که نیازبه پرسونل صنعتي که ما آن راپرولتاریاي صنعتي مي نامیم کاهش یافت.

س : به ارتباط توضیحات قبلي سوال درقطرم مطورنمود طوریکه آیاهتایدشمادنبال هاي به پیروان شما ایجادشده درحتي لینن ازشماهم یك قدم فراترفته وبدون گذرازسرمایداري مستقیماًازفیودالیزم به سوسیالیزم راه یافت.

ج: مارکس غضبناك گردیده ودرحالیکه ازفرط خشم کلماتي رابا آهستگي غرش کنان تکرارمینمودبعداز لحظه سکوت گفت : مباحثات من راانکارمن فرهنگ زمان خودمابوده وبدیگران تعلقي نداشت وشمانمیتوانید مرابااعمال زماني مقصربدانید که من هرگز آنهارا ندیده ام.

س : برداشت شما ویاهم فلسفه شما فقط براي اروپایان جالب است وبه اصطلاح سرف درهمین سرزمین خدمتگاران صادقي دارند ولي درسرزمین هاي دیگر چون امریکا چندان مشتري ندارد.

ج: این یك واقعیت است وعلت آن عدم ارزیابي دلیق ماازجامعه امریکا بودمن اکنون به این اشتباهم پي برده ام که رشد فزاینده پرولتاریاي صنعتي ازرویدادهاي مختص آن زمان وحتي همان ناحیه بود ومن نباید ازاین قاعده عامي مي ساختم چنانچه بعداز ۱۹۵۰ این رشد شدیداً کاهش یافته وحتي کارگران صنعتي اکنون کمتر از ۲۰ فیصد قوه کارراتشکیل مي دهد.

س : ازتوضیحات شمابوضاحت استنباط میگرددکه مفکوره شمادرمورد کاروکارگرتازماني درست بوده وبعدابتاء برقوع عکس پیش بیني هاي شما ازکارافتاده است پس آیا سوسیالیزم تاریخي که آن راعنوان نموده بودیددیگر پایان یافته وباطل است ؟

ج : باشما موافقم ، این بزرگترین اشتباه مابود، حدود ۷۰ سال مفکوره ماپازارگرمي داشت ولي وقتي من ازصحنه گیتي دورشدم دیگر تاریخ بامارکس کهنه نساخت، متاسفانه این قدر دستاوردرا نمیتوان پیروزي دانست وفکرمي کنم اساس سوسیالیزم باید موردتجدیدنظرقرارگیرددر... درصورت ... وجودآن سوسیالیزم هیچ ... خواهدداشت

س : ... واقعاً مطالعه عمیقي درمورد ...یزم دارید آیااین نظام قابل ... است تادرزندگي معاشرت بشري ازآن کارگرفت شود.

ج: گرچه ... چون کدام اقدام ... ننموده ام ... گروه هاي که بعد ازگذشت من بمیان آمدند وعموما خودرا مارکسیست مي دانند غرض رفاه عامه تغیراتي راپیشنهادنمودند والبته من وانگلز نیز به رفاه عامه وبه ایجادسهولت هابراي همه اعتقاد داریم ومخالف رنج هاي همگاني ستیم وماتیزمعتقدهستیم که اصلاحات دردرجامعه ممکن است ازداخل ... جامعه صورت گیرد.

س : ... نظرشمادرموردیکي ازپیروان شما ... برنشتین، باشخصي که ... درسوسیالیزم رامهم ... ... هدف نهائي انقلاب سوسیالیستي شماهي دانست ، چیست ؟

ج: ... سرانجام سرامیمه شدونمیدانست چگونه جواب دهد، دستي ... کشیده وبعدازمکث طویل گفت ، بعدازآنکه انقلاب مادراروپاي غربي ناکام شدمن نیز معتقد شدم که پیروزي سوسیالیزم درکشورهاي پیشرفته تراروپاي غربي ناممکن است لذابهترین کاري که بایدانجام شوداصلاحات دراساس انقلاب است وبس.

س : پس میراث اصل شما اکنون دراختیارسوسیالیست هاي روسي است ویاهم بطورمثال نزدسوسیال دموکرات هاي سویدن ، ا مارکس درحالیکه ازتردید، شدن من بحقایق دراسش بیشتري شد ...

ج: میراث مذکوره من نزدهردوگروه موجوداست ولي طبقه اول هم دراجراي ... ورثیش ناکام شدامامیا طبقه دوم سورزم داراي اعتبارات تاریخي مي باشد. درین فرصت اضطراب آشکاري درسیماي مارکس بمشاهده مي رسیدواوبشتابا ساعت جیبي اش رابیرون کشیده وبهانه براي فرارایجادکرده گفت ، تشکر ازصحبت شما من مرخص میشوم زیراباکسي وعده ملاقات دارم ، گفتم بشکل مختصری توضیحي میخواهم طوریکه :

س : بعدازپایان این دوره ناکام مارکسیزم کمامي رودوسرنوشت اش چه میشود ؟

ج: گفتم متابق روشن خواهد شدمن ... ازخودرامتعلق به مارکسیزم ... نتوانست ام ، متوجه باشم تانهاك بین تعلق داردساداً اعتراف مینمایم که من یك مارکسیست نیستم ولي نمیتوانم انکارکنم ... فقط یك عنعنه بنام مارکسیزم وجوددارد ، وبنظرمن وقایع ۱۹۸۹ مارکسیزم رابه ۱۹۱۷ مربوط ساخت واین انقلاب اکنون شکست وکلاً ناکام گردیده است سرانجام مارکسیزم دوباره به عمومیت و مل گرائي مبدل شده و خصلت انحصاري اش راازدست دادواکنون مارکسیزم درکنارسائرروش هاي سیاسي موجودیت ضعیفي خواهد داشت نه اینکه منحیث ... عقیده ... برهمه اذهان ... حکمروائي ... واین حقیقتي است که ... سیزم بعدازگذشت ... قرن ... به آن پي برده است.

س : اکنون چه تاپیرامون ... هاي باقیمانده است ؟

ج: دربنمورد خیلي توضیح دادم واینقدرعلاوه مینمایم که هرچه مارکسیزم ناکام شدولي کاپیتالیزم هنوززنده است بهمین دلیل است که هنوزبیعدالتي ها وعدم مساوات محیط مارافراگرفته است.

س : آخرین سوال خودرا ازمارکس چنین مطرح ساختم : آقاي مارکس ! باوارتي چنین حوادث ... آیا تاسلسر درزندگي خوددارید ؟

ج: مارکس بالهجه لهرآمیزي گفت چراباید داشته باشیم طوریکه ازدرایت ملت ، نوشته ... آید ، دراینجا باازدوستان عمله استنباط میگردد که خداوند ج به انسان این قدرت راعنداده است تادرمورد مستقبل قضاوت کند ودرکدرسمي شود تاانسان به اساس مطالعه گذشته حاوحال والعیتي رادرمستقبل پیابید ... سودي نخواهدداشت لذامن هم چنان بشرم واینکه ازیکطرف پیش بیني هاي تکرپشري ام نادرست ثابت شد وازطرف دیگر مه بامن جفاکردند لذا درزندگي ام چندان قصوري راامتوجه وجدانم نمي سازم . گفتم خیرباشد آقاي مارکس اکنون شمابوجودخدا(ج) عقیده دارید چه تحول مرموزي ؟

مارکس دیگر کامه بزبان نیاورد وباسیماي غضبناکي منزل راترك گفته وهنگام خروج درب خانه راچنان بشدت کوفت که باصداي مهیبش دربسترخوابم ازجاپریدم . چشمانم رامالیدم وباخودگفتم آیااین فقط یك رویابودویاهم مصاحبه انحصاري واختصاصي بودکه خاتمه هم انحصارطلبي هاي مارکسیزم وپیروان اش رانویدمي دهد.

ادامه دارد

دزد هم میگوید

ع - مولوی زاده

ضرب المثل فوق که دربین مردم مابه کسرت رواج داردظاهراً وقتي گفته میشودکه حق وباطل هردوخودراحق جلوه دهندوفکرمي کنند که مردم باهمین گفته هاباورخواهندکردوحق راازباطل تشخیص کرده نخواهندتوانست !!

طوریکه نجیب رئیس رژیم ملحدودست نشانده روس گاه گاهي درسخنراني هاي خوددرمقابل مردم مسلمان وشجاع افغانستان میگوید که مردم افغانستان درشجاعت ، پایمردي ، مقاومت علیه تجاوز بیگانگان واخراج مذبوحانه شان تاریخ درخشاني دارد(درین جمله هیچ کدام شکي نیست) ودرهرعصروزمانه این شجاعت وپایمردي رادرعمل نشان داده

دزدرا بگیرید ،

اند ومتجاوزین را شرمنده ازکشورباستاني مابیرون کرده اندومثال عمده آن جنگ هاي افغان وانگلیس درچندبارمیباشد !!

بدبخت بیچاره جنگ هاي چنددفعه گذشته رایادکرده ولي ازجنگ جاري واخراج قواي متجاوزروس که درهمین دهه المیرصورت گرفته وخودنیز بقایاي همان تجاوزات که عنقریب ان شاء الله به دنبال اربابانش روانه دوزخ خواهدشد ذکري به عمل نمي آورد!

همچنان باسروصداهاي اکثررهبران جهادمبني برمداخلات روزافزون امریکا روی قضیه افغانستان اخیراً پیترتامسن نماینده به اصطلاح خاص امریکا نزدمقاومت ماکه به حق رئیس دولت موقت منحله اش باید خواند!! نیزدریك مصاحبه رادیوئي بایکي ازرادیوهاي غربي خودشان روی قضیه افغانستان اظهارداشت که دول خارجي ! نباید درامورداخل افغانستان مداخله ودست درازي کنند مردم افغانستان رابگذارند تاخودسرنوشت خویش راتعین کنند !! زیراتعین سرنوشت توسط کشورهاي خارجي راافغانها مداخله درامورداخل خودمیدانند وبهان سخت حساسیت داشته ودربرابرآن به مقابله برمي خیزندونیز افغانهادرین نوع مقابله چندین بارامتحان خویش راداده اندك زیرباروتجاوزهیچ کشوراجنبي نرفته ونخواهند رفت !! تامسن درین اظهاراتش چه خوب درك کرده، اي کاش اولترازهمه خود به این گفته ها وبرداشت هایش جامه عمل بپوشد . فعلاً مرابیاد ضرب المثل

صاحب خانه هم !

فوق آورد وشاید وظیفه که اوراداربه آن صلاحیت هاي بي حدوحصرومجریان حلقه بگوشش !! نشودوي نیز خودرا وابسته به یکي از لومیت هاي ملت افغانستان بداند! که اگر امروزنداند درسالهاي بعدبااستفاده ازتجارب دوستانش ،چنین خواهدکرد!! وواي به آن روز!!

وآیاواقعاً ملت هنوز آگاهي آنرانیافته که بین صداهاي نجیب تامسن ورهبران جهادکه ۱۲ سال براي آزادي وحراست کشور رزمیدند فرقي قائل شده وحق راازباطل تشخیص دهند ؟!

اسلام ...

دغه سنند اوبه بولي بلي خوا وگرځولی شوي ،اوبوه سرسبزه سیمه به ویرانه بدله شوه، داسلامي جمهوریتونو له زروزك کانونه دروسانو په واك کي واومسلمانان له هرڅه محروم شول .

داهر څه کیدل ،دنیا خوشحاله وه چي مسلمانان ځبل کیږي خو د کمپاس مخلي بولیکونکي داتصدیقوي چي ،له دي سره سره دروسیي په بنځلسو جمهوریتونوکي د شپږو مسلمانو جمهوریتونو نفوس له اتیا کالوراهیسي ځبل کیدوسره سره عملا اوعقیدتاً بیداردي اوهغوي خپله اصلي پېژند پېنگه ساتلي په سلګونو دیني مرکز ونه په پټه کارکوي .

اود لمونځونو په زرګونو مرکز ونه دکورونوپه چار دبوالي بندي دي ،دلندن پایمز اخبارلیکي چي دروسیي شوي ځوانان خصوصاً به شاګردانو اونویومفکرینوکي اوس داسلام کلك حامیان راپورته کیږي ، اوپیرمسلمان چي کمونستان شوي بیرته دپلرنیو اقدارواوکلتورطرف ته رجوع کوي

دروسیي د ۲۵۰ ملیونه نفوس له جملي څخه اوس ۵۳ میلونه مسلمانان تشکیلوي چي بهول هیوادنفوس پنځمه برخه ده اوعقیده تا دوهمه لویه ابادي ده ،خو ، لاوتن ، لیکي چي ځرنګه چي په روسیه کي دمسلمانانو نفوس دنوروپه نسبت ځلورچنده زیاتیږي شوبه قوي گمان به په راتلونکو دیرشوکالو کي مسلمانان دروسیانو له نفوس نه زیات شي

اوس چي شلمه پیړي دختمیدوپه حال کي ده دروسیي اسلامي جمهوریتونه داسلامي اقدارو حواته دراګرځیدولپاره مثبت ګامونه اخلي ،له روسي ترکستان نه راتلونکي خلکهول داسي اشاري کوي چي په روسي اسلامي جمهوریتونوکي کمونستان یکي سوازي بیاني شوي به ځاي سر دمتبادل اسلامي مسترنیا به اثار راڅرګندیږي

نیوبارك تایمزله دي حقیقت نه سترګي نه پټوي چي د اسلام اعتصابي ځواك برخوله روسیه حاوي او دیوه انقلابي اسلامي تحریك محکبش دي ، دروسیي مسلمانانو چي ددي تحریك

دیباوړیا لپاره کوم کارکوي د سنابني وږدي ،به دي تحریك کي هغه دوه ملیونه مسلمانان هم لویه برخه لري چي دتاجکستان اوازبکستان نه افغانستان ته مهاجرشوي اوهغه ځلورلکه مسلمانان هم چي ایران ته تللي دي او د قزاقستان اوګرغیز په سرحد ونو کي دیرنوجیچي مسلمانانو برخه هم شته چي دوروولي - رشتي بي کله هم ونه شلولي .

طرح ...

افغانستان دست یابي به چنین هدف دشواراست . مبارزه وجهادملت افغانستان تنها جنبه ضدکمونیستي ندارد درست است که روسها درطول سالهاي گذشته دشمن اول مابودند وهنوز هم هستند ولي این واقعیت هرگزبه معني بفراموشي سپردن خصلت ضداستکباري که نهضت هاي اسلامي را ازسایرحرکت هامتمایز مي سازد نبوده است . ازاینجاست که مي بینیم درحالیکه مسئله افغانستان مطابق به خواست واراده اکثریت ملت مسلمان افغان به آساني قابل حل است دوابرقدرت مانع دست یابي به چنین راه حل اندزیرا خواست ملت مسلمان مابامنافع آنان درتضاد وتصادم است .

بادسیسه هاي استکبارجهاني سرانجام حق برباطل ونوربرظلمت پیروزخواهد شد وحکومت مورد خواست ملت مادرافغانستان بدست مجاهدین تاسیس خواهد گردید . انشاء الله

ځوك چي کامیاب معلم وي، هغه دقومونو لپاره کامیاب اوموفق قائد او مشرهم وي

دیکشنبه ورځ دزمری دمیاشتی اومه نیټه ـ دسعدبن ابیس مدرسه نصرت مینه ـ پیښور ـ شهادت :

دروان کال دزمری دمیاشتی په اومه نیټه دسعد بن ابیس په مدرسه کي دمعلمینو دایډیولوژیکی اومسلکی پوهی دلوړتیالپاره یوعلمی دری ورځنی سیمینارپرانستل شو. ددغه علمي سیمینارپه افتتاحیه غونډه کی دحزب اسلامی افغانستان امیرمجاهدورورحکمتیارهم ګډون درلود. ددغه سیمینار دپرانستلو په مناسبت مجاهد ورورحکمتیارپوه علمی، لارښوونکی اومفصله وینا واوروله اوورپسته یی دسیمینار دبرخوالوپوښتنوته تفصیل اومستدل ځوابونه ورکړل چي دادی دشهادت لوستونکوپه دي ګڼه کی دهغو پوره متن ستاسودزړونولوستونکودلازیاتی خبرتیاپه خاطر نشرته سپارو؛

خودهمدغه مقصدلپاره پیامبرانو علیهم السلام هجرت کړی، وسله یی اخیستی، دشراودفسادله ځواکونو سره یی ټکراوتصادم راغلی او ژوندیی په هجرت، جهاداو شهادت کی تیرشوی یعنی داتعلیم اوتربیه او روزنه داسی کاردی چي دلویو لویوطاقتونو سره، دشراودفساد دطاقتونو سره یې ټکراوتصادم هم لګوی، چیرته چی ددعوت لاره بنده شوی اودشر وفسادځاکمو ځواکونو ددي کوشش کړی چي خلك په اختناق، ستم اوترظلم لاندی ژوندوکړی، هغوی آزادنفس ونشی ایستلای، دهغوی غیږه سینوکی خفه وی اوډظلم په وړاندې یې سرټیټ وی، ظالمان حاکم وی. هلته هغوی مجبورشوی چي دشراو فساد دلوټونو په خلاف وسله واخلی دهجرت لاره غوره

> مونږ دغسي استادانو ته ضرورت لروچي خپله زمانه وپيژني او دښمن وپيژني دهغه دتوطئو اودمکرپه نسبت پوهه اوعلم ولري زړنګ اوهوښياروي ،ايماني فراست ولري هغه ددښمن په پيژندني کي مهارت ولري اوبيا دهغه دمقابلي کمال ولري اوخپل طالب اومتعلم همدغسي وروزي مونږ دغسي مدرسينو اواستادانو ته اړ او محتاج يو.

الحمدلله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی فاعوذبالله من الشیطن الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

لقدمن الله علی المؤمنین اذبعث فیهم رسول من انفسهم یتلوا علیهم آیاته ویزکیهم و یعلمهم الکتاب والحکمه وان کانوامن قبل لفی ضلال مبین ط وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت لا تمم مکارم الاخلاق .

صدق الله وصدق رسوله نبی الکریم

زماوروڼو !

الله جل شانه فرمائی چي یقیناً خدای په مؤمنانوپیرزوینه اواحسان وکړ، چي په هغوکښی یی ددوی څخه پیامبر مبعوث کړ. دوی ته دالله آیتونه لولي، ددوی تزکیه کوی اوعلم اوحکمت ورښیی، حال داچي له دیڅه دمخه دغوی په څرګنده ګمراهی کی وو.

دامبارك آیت دپیامبرانو علیهم السلام دبنده اونقیلنه په څو مختصروکلماتو کی ذکر کوی. هغه پیامبران چي صرف ځیا قوم له منځه رالاپورته شوی اوالله مبعوث کړی، ددوی په شانوباندی دالله آیتونه دعوت کړی، دهغوی روزنه اوتربیه یې شوی په اخلاقی لحاظ اوفکری لحاظ یې هغوی تزکیه کړی اوهغوی ته یې علم اوحکمت ښودلی، اوبیاددی علم دپیاده کولو اوتحقق لاری چاری (حکمت) اداپی دواړه ورته ښودل. یعنی دپیامبرانو کارتعلیم اوتربیه دی . په دی مبارك آیت کی دتربیی ذکرله تعلیم نه دمخه راغلی . تزکیه له تعلیم نه دمخه اوحقیقت دادی چي دتربیی اهمیت ترتعلیم نه زیات دی . هغه علم چي له روزنی اوتربیی سره توام نه وی، تش علم دی چي په دردنه خوری . علم هلته اهمیت لری چي له اخلاقی اوچټی ښوونی اوروزنی سره توام وی . پیامبرانو علیهم السلام یواځی خلکو ته علم نه دی ښودلی بلکی ددی علم مطابق خپل ژوند تنظیمول اوهغه اهداف ارمقاصد چي علم یی ورپه ګوته کوی ددغه تحقق، هغه ته درسیدلو لاری چاری هم ښیی . دعلم اوحکمت ښودنه یي هغوی ته کړی ، پدی ترتیب دپیامبرانو علیهم السلام کارتربیت اوتعلیم دی .

پیامبرعلیه السلام هم همدغسی فرمائی چي (انما بعثت معلماً) زه دیومعلم په حیث مبعوث شوی یم « لاتمم مکارم الاخلاق » ترڅوداخلاق مکارم اتمام ته ورسوم، تکمیل یی کړم . یعنی پیامبرعلیه السلام یومعلم واودخلکوالپاره مربي، هغه راغلی ودچی اخلاقی مکارم پای ته ورسوی » دامبارك آیت دتعلیم اودتربیی اهمیت اودمعلم مقام په ګوته کوی » معلم اومدرس یعنی دپیامبروارث .

پیامبرعلیه السلام همدغسی فرمائي چي علماءدپیامبرانو ورثه دی خو له هغوی نه مال اوجاه په میراث ندی پاتی شوی بلکی همدغه دعوت الی الخیر، امربالمعروف ، علم ، تعلیم اوتربیت داهغوی ته په میراث پاتی شوی . دادعلم، دتدریس اوتعلیم اهمیت په ګوته کوی. دتاریخ په اوږدوکی پیامبران دهمدی لپاره مبعوث شوی .

کړی. یاران یی په شهادت ورسیږی اودمسلح جدوجهد طولانی پرخم وپیچه اوداوږو ژړو لاره غوره کړی. که انسان تاریخ ته رجوع وکړی نودسترو ستروانقلابونومشران به هغه کسان وموعی چي یووخت په یوی وړی مدرسه کی دمعلم اودمدرس په حیث پاتی شوی، حقیقت دادی ځوك چي کامیاب معلم وی، هغه به دقومونو لپاره کامیاب او موفق قائداومشرهم وی . یو ناکام معلم د قوم لپاره قائداومشرنشی جوړیدای، تاسی تاریخ ته رجوع وکړی، دستروسترو اجتماعی اوفکری انقلابونومشران به داسی ځوك وموعی چي یووخت هغوی په یوه وړه مدرسه کی په یوه ګوښه کی معلم وو، استادووا همغه معلم اواستاددی چي یووخت دیوستر اجتماعی تحول اوانقلاب مشر، قائداو رهبرورته جوړشوی. مخصوصاً هغه قیادتونه چي دملتونو اوولسونو له متن نه رااوچت شوی اوپه فکری اواعتقادی انقلابونو کی یی خلك رهبری کړی. دمعلم اودمدرس له نقش اورول نه په لویو اوسترو ستراجتماعی انقلابونو کی هیڅوك سترګی نشی پټولای .

مونږهم پدی لوی تاریخی اوسترانقلاب کی چي نن دخپل کامیابی په وروستی درشل کی دی اودهغه په وجه دتاریخ مسیربدل شوی، ددنیاد پولسوی وضعی

> زه مطمئن یم که نن واشنګتن اوماسکو په خپلو منځونو کي توافق وکړي چي افغانستان ته دمرستو دلیږلومخه ونیسي دمرستو ارسال متوقف شي ،نو داکاملاً دمجاهدینو په ګټه دي دکابل رژیم دڅو ورځو لپاره هم نشي پاتي کیدای دکابل رژیم په همغومرستو متکي دي چي هره ورځ له روسیي نه ورته راځي .

اوهغوراستعماری طاقت زوال پیل شوی او دتاریخ یوه ایډیولوژی چي یووخت یی په ټوله دنیا دسیطری اراده وه، دهغه ټغرټول شوی، دهغه نه دتاریخ افسانه اوکیسه جوړه شوی. پدی انقلاب کی مونږ ترپیل هرڅه نه زیات [illegible] متعهدواوپوهومعلمینو اومدرسینو ته ضرورت لرو. هغه معلم اومدرس چي واقعاً په دین پوه وی . ددین په روحیي اومزاج هم پوه وی اوبیا ددین دپلی کولو ارتنفیذلاری چاری هم ورځی. دیرکسان علم لری خوله دی نه پیروپیرهاجزوی چي ځنګه خلك دی دین ته راوبلی ځنګه ددی دین کلمه لوړه کړی، ځنګه خلك دادین قبول کړی. ځنګه دادین حاکم اوناندشی، هغه علم لری خوحکمت نلری، هغه عالم دی خوپوحکیم داعي ندی. مونږ داسی په دین پوهو مدرسینو اومعلمینو ته ضرورت لروچي هریویی یوحکیم داعي وی. دغسی معلمینو ته چي له اخلاقی لحاظه، معنوی اوروحی لحاظه هم هغه دومره اوچت وی چي دهغه شاګرد اوطالب اومتعلم ان دهغه دسیمانه، دهغه دحرکاتو نه هم متاثره کیږی. صنف ته دداخلیدونه، له متعلم سره د هغه له برخوردنه، دهغه دالفاظواوکلماتو نه دهغه دسکناتونه ، له سیمااوڅیری نه اودهغه له سنګینواومتینوحرکاتونه هم متعلم اوطالب درس اخلی. مونږ

ددغنددواستادانوته چي دیرباددغه داعی په حیث عمل کوی ضرورت لروهغه چي صنف ته په دی روحیه داخلیږی چی ک الله ده ته داتوفیق ورکړی چي یوکس دهغه په لاس هدایت شی، پیامبرعلیه السلام حضرت علی کرم الله وجهه ته فرمائي چي که ستاپه لاس یوکس هدایت شی داتاته له دی هستی اوټولو چي په دی کی دی غوره اوبهتره دی. له دی ټول دنیا اوهغه چي په دی دنیاکی دی، له دیڅه داخبره تاته غوره ده چي ستاپه لاس یوانسان هدایت اورهنمائی شی، ځوك چی له دی جذبی اوعزم سره، یا پدی روحیی سره صنف ته داخلیږی چي که الله وکړی اودهغه په لاس یوانسان ددین طرف ته داسلام طرف ته ، دالله طرف ته هدایت اورهنمائی شی، هغه ځوك چي دغه وظیفه یوه مقدسه وظیفه ګڼی، هغه ته اهمیت ورکوی، صرف دمعاش لپاره داکارنکوی، که هغه ته ددنیا داټول کارونه په مخ کی کیښودلای شی، ستر سیاستمدار، لوی تجار، سرمایه دار، اولوی حاکم اوفرمانرواأولوی داکتر، انجنیر، ددنیا ګن شمیر وظائف ورته په مخ کی کیښودلای شی، چي کوم یوغوره کوی؟ نوهغه معلمی اختیاروی، دهرڅه چانس ورته میسروی، دهرکارکولو امکان ورته میسروی، خو هغه په دی خاطردی کارته ترجیح ورکوی چي له دی لاری نه دخپل هدف لپاره کارکولای شی. هغه دتحریك یوفرددی دهغه دخدای طرف ته یوداعی اوبلونکی دی اوهغه غواړی چي داوجیبه ترسره کړی. غواړی چي دقوم لپاره یوصالح، حکیم اومخلص داعی وی، ددعوت لپاره هغه بهترین مجال همدغه ګڼی، چي چیرته معلم اومدرس وی دتولو نورو مصروفیتونه خلاف ورته دیره ترجیح ورکوی، پیرورته لیوال وی، ددغه لپاره پیری هڅه ځلی کوی، خو هغه داټول شاته غورځوی ول دغه اختیاروی. باوروکړی چي که دیوی وظیفی داختیارکارزماوی اوزه دی ته مجبور نه وم چي دیوتنظیم سیاسی اوعسکری مسئولیتونه زماپه غاړه وی اوماته پریښودلای شی چي زه کوم کارغوره کوی نوزه به معلمی انتخابوم اوماته معلومه ده چي یومعلم اومدرس چي هغه هدف لری اوداوچت مقصد لپاره کارکول غواړی، اهمیت څومره لری. مونږ دغسی استادانوته ضرورت لروچي دمعلمی وظیفه، داستادی وظیفه یومقدسه اوبااهمیته وظیفه ګڼی، ددی لپاره نه چي دمعاش یوه ذریعه ترلاسه کړی اویوماموریت ترلاسه کړی دشوروکارونو لاره وربانیدی بنده شوی دمجبوریت په وجه یی معلمی اختیارکړی وی داسی نده !!

داسی استادچی له شاګردسره یی مینه وی اومعامله یی له هغه سره دیودلسوز پلارمعامله وی لکه چي دخپل اولاد روزنه اوتربیت غواړی، اوغواړی چي په غیرکی یې یوستر شخصیت لوی شی اوڅه چي یی په خپل ژوی لوړیږی نودخپل شاګرد لپاره هم همدغه تمنا اوجذبه په زړه کی ولری. دیودلسوزپلارپه حیث له هغه سره معامله وکړی. هدف یی داوی چي که الله وکړی اوزما په لاس اوزما ددی شاګردانوپه حلقه کی دتاریخ یولوی قهرمان اوشخصیت جوړشی. حقیقت دادی چي الله جه پوهیږي ددغو ماشومانو چي په دغه کی کی پیداکیږي که دهغوی سره مینوته اوروزنه وشی او دااستادان یی خپل مسئولیت سم اداکړی اودهغوی په نسبت دیو دلسوزپلارپه شکل معامله وکړی الله جه پوهیږی چي له دغو نه به څومره ستر سترشخصیتونه جوړشی.

په دی کی به دتاریخ څومره لوی لوی اومشهورمشهور قهرمانان راپیداشی، پیراستعدادونه دغسی دي چي خفه شي، په هغه باندی خاوری پریوځی اوهغه دودی اوزنوالپاره موقع ترلاسه نکړی یااجتماع هغه سرکوب کړی، ویی ټکوی، یادغلط قامیل په غیردهغه نادرسته تربیه اوروزنه وشی اودیوغیرصالح معلم اومدرس لاس ته ورشی که زمونږ معلم اومدرس اواستادخپله وظیفه اکه ځنګه چي ښایی ترسره کړی نوپه همدغو مدرسو اومکتبونوکی به زمونږ دتاریخ لوی لوی قهرمانان روزل کیږی .

حقیقت دادی که په معلم اومدرس کی، په استادکی، عالم کی دلویو لویو شخصیتونود پیداکولو اودروزلو جذبه راپیداشی ، داجذبه راپیداکول هم ملت کارندی، ځوك چي ستر عزم ولری اواوچته اراده، دهغه په لاس لوی لوی شخصیتونه نشی روزل کیدلای ، اول باید له مونږسره پیرلوړعزم، اوسیسری اوچته اراده وی سترسترمقاصدوی چي دیوویوکارونوکی ځان مصروف نکړو ځان له دی نه پیراوچت وګڼوچي زمونږ دااستعدادونه دی دیوویوکارونو کی مصرف شي بلکي داسي وګڼو چي زماپه لاس باید سترکارترسره شي. زه له دی نه پیراوچت یم چي په وړو وړوکارونوکی زمانمرتلف شي. زه باید دتاریخ لوی لوی کارونه وکړم اوچي دالله په وړاندی ودریږم، زما په عملنامه کی سترسترکارونه ثبت شوی وی. که له چانسره دااراده وی تواميدوی چي دهغه په لاس، دهغه دشاګردانو اوطلبه و په حلقه

> ورونو ا زمونږ دانقلاب په خلاف دلویو طاقتونو، داسلام دښمنه ځواکونو ګډسازش اوتوطئه داسي ده چي په هرقیمت باید په افغانستان کي دمجاهدینو په لاس داسلامي حکومت له جوړیدو نه مخنیوي وکړي .

کی دغسی لوی لوی اوسترستر شخصیتونه وروزل شی .

باشرمه اوباارادی اوداوچت روحي اومعنوی حالت خاوندااستاد اومدرس به دغسی لوی لوی شخصیتونه پخپله غیږاولاس کی روزی، مونږ هغه استادانوته ضرورت لروچي طالب اومتعلم یی درزمانی دتقاضا اوغوښتنوسره سم وروزل شی، حالات بدلیږی رابدلیږی، دیوی روحیی حالت چي په یوخاص محیط اوحالت کی روزل شوی وی، دبل حالت لپاره سازګارنه وی اوپه هغه اجتماع کی ژوندکول اوبیاپه هغه اجتماع کی تاثیردرلودل ورته محال اوناممکن وی. دغسی استادان چي پخپله خپله زمانه وپیژندل شی، (دخپل زمانی پیژندل هم پیرلوی هنر غواړی)، آسانه کارنه دی، اکثراً خلك پخپله زمانه کی ژوند نه کوی، دخپل زمانی نه پیر وروسته پاتی وی، دخپل زمانی دغوښتنو اوتقاضا باندی پوهیدل اوبیاخپل طالب اومتعلم همدغسی روزل دایولوی کمال دی . مونږ دغسی استادانوته ضرورت لرو چي خپله زمانه وپیژنی اودښمن وپیژنی دهغه دتوطئو اودمکرپه نسبت پوهه او علم ولری، زړنګ اوهوښیاروی، ایمانی فراست ولری، هغه ددښمن په پیژندنی کی مهارت ولری اوبیا دهغه دمقابل کمال ولری اوخپل طالب اومتعلم همدغسی وروزی، مونږ دغسی مدرسینو اواستادانو ته اړاومحتاج یو ـ حقیقت دادی چي ځوانان داجتماع لوی طاقت دی ! همیشه اجتماع دوی ته پاتی وی. ټل لوی لوی انقلابونه ددوی په لاسونوراغلی، اوپه کومه اجتماع کی چي داقوت ضایع شوی هغه اجتماع ضایع شوی. پیامبرعلیه السلام همدغسی فرمائی دحدیث مفهوم دی چي دقوم ځوانانو زماملاتړوکړاولوپانوزمامخالفت، دپیامبر علیه السلام له یارانوڅخه دډیروکسانو عمرله دیرشونه اوچت وو نورټول له دیرشونه راکوزوو راکم وو، څوك تاسی قرآن عظیم الشان تلاوت کړی نوبه ګوری چي دپیامبرانو علیهم السلام ملګری همیشه ځوانان وو اودهغوی په خلاف هداوپل کیدل چي ددغو ځوانانو ددوی په اصطلاح بادی الرای کسانو په لاس به دالوی لوی کارونه ترسره کیږی چي تاسي یی دعوه کوی ؟! ددوی په لاس به دانقلاب راځی؟! ستاپه خبرو باوروکړو حال داچي ستاملګري

دغسي کسان دی ؟! بادی الرای ځوانان دی ! زمونږ دلو ارازل اوسفهاء دی ! دالوت داستاد په لاس کی دی، ددوی روزنه تربیت توجیه، له اخلاقی لحاظه فکری اوعملی لحاظه ددوی په اختیارکی دی . الله دی زمونږ استادانوته توفیق ورکړي چي دالوت دهغوی په لاس ضایع نشی، دالوت له هغوی نه ضایع نشی اومونږ دغسی نوی نسل خپل اجتماع ته تقدیم کړوچي هغه ددی لوی انقلاب سترستر پاسداران وی . ددی انقلاب ساتنه به دهغوی په لاس کی وی، راتلونکی اسلامی حکومت به ددوی په لاس جوړیږی اوراتلونکی نسل بایدترداغو کسانوچی دالنقلاب یی پیل کړی اودی مرحل ته یی رسولی تر دی نه اوچت وی، تردیڅه دمخه وی ، له فکری اواخلاقی لحاظ باید تردیڅه دیر دمخه وی، ځکه چي هغوی له هغی ورځی نه چي په خبره پوه شوی ، نو همداشعارونه یی له غوږونو سره زمزمه شوی چي الله ستردی، دخدای په لارکی جهاد، دهغه په لارکی هجرت، شهادت اوددښمن په نسبت کرکه اونفرت، دخدای په لاره کی قربانی اوستونځی اوکړاونه ځغمل داچي دانقلاب په غیږکی پیداشوی اوستر شوی، ددوی په لاس بایدراتلونکی اسلامی حکومت جوړشی، ددوی باید زمونږ ددی انقلاب پاسداران وی. مخصوصاً په دغه حساسه مرحله کی چي زمونږ انقلاب ورته تیریږی، مونږ ترهرپل وخت نه زیات دیته اړیو چي زمونږ استادان خپل مسئولیت درك کړی اودا ځوان قوت، ځوان نسل چي توجیه اورهنمائی دهغوی په لاس کی ده اوداد هغوی په لاس کی لوی الهی امانت دی، دادرست توجیه کړی، که مونږ وتوانیدای شوچي دادرست توجیه کړو دلویو لویوطاقتو مقابله کولای شو، ددی انقلاب مقصداوهدف داکسان ترټولو نه دمخه درك کولای شی» نورددی له درك نه عاجز دی .

په دی مرحله کی داستادانو مسئولیت ترسابق نه څوچنده اضافه کیږی .

ورونو ! زمونږ دانقلاب په خلاف دلویو طاقتونو، داسلام دښمنه ځواکونو ګډسازش اوتوطئه داسی ده چي په هرقیمت باید په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس داسلامی حکومت له جوړیدونه مخنیوی وکړی. دغرب اوکمونیزم ترمنځ نور کشمکش پای ته رسیدل ، دکمونیزم په خلاف چي غرب په کوم جنګ اوکشمکش کی مصروف و اوس هغه جنګ پای ته رسیدلی، هغه جبهه منتفي شوی . اوس دهغوی ترمنځه دتفاهم، دروغي جوړی اومشترکومواقفو اودریځو نوموقع رارسیدلی . هغوی دستروسترو مسئلوپه ارتباط خپل اختلافات شاته وغورځول اوئن هغوی ګډمواقف نیولای شي. دهغوی ترمنځ اوس اختلافات ختم شوی یانږدی دی چي ختم شی، نن غرب دکمونیزم نه ویره نلري . کاردی حدته رسیدلی چي د پکت وارسا اوناتوډیوځای کیدوخبری کیږی اوئن غرب دروسیي سره دمرستی خبری کوی. نن په غرب

> مونږ داسي په دین پوهو مدرسینو اومعلمینو ته ضرورت لرو چي هریویي یوحکیم داعي وي ، ددغسي معلمینو ته چي له اخلاقي لحاظه معنوي اوروحي لحاظه هم هغه دومره اوچت وي چي دهغه شاګرد ، طالب اومتعلم ان دهغه دسیمانه ،دهغه دحرکاتو نه هم متاثره کیږي .

کی داتبلیغات کیږی چي باید له روس سره داصلاحاتو په دی انقلاب کی مرسته وشی، داجنګ اوس تقریباً منتفي شوی، دغرب ویره اوتشویش دکمونیزم له ناحیی نه ختم شوی اوس ګورو چي دغرب ټوله ویره اوتشویش یواځی له دی ناحیی نه دی چي اسلام دیوپل سترقوت په حیث تبارزونکړی. تاسوکه دغرب تبلیغات تعقیب کړی نوداویره اوتشویش به په واضح طوراحساس کړی په دی باب چي نوردناتوضرورت هم منتفی شوی ځکه ناتودپکت وارسا په خلاف جوړه شوی اوس چي پکت وارسا متلاشی شوی دناتوضرورت هم

ختم شوی . ول هلته داتوجیه کیږی چي دبنیادګرائی په خلاف باید ناتوپه خپل حال پاتی شی، پاتی څه ؟ دناتودبقاله پاره صرف دادلیل وړاندی کیږی چي دا فندامینتالیزم! یادبنیادګرائی خطرندی منتفي شوی، دهغه په خلاف بایدناتوموجودوی دغرب هغه صلیبی جنګونه چي څوپیړی یی ادامه وکړه لاتر په یادذی ! داالنهه سوده کیږی چي دهغه جنګ جهت بدل شو.

اوهلته پخپله اروپاکی داجنګ پیل شو، خواوس چي دوباره اسلامی امت بیداریږی، په عالم اسلام کی اسلامی تحریکونه رااوچت شوی، روس دلته دافغانی مجاهدینو په لاس ماتی وخوړه، کشمیرکی جنګ دآزادی جنګ، په فلسطین

> که انسان تاریخ ته رجوع وکړي نو دسترو سترو انقلابونو مشران به هغه کسان وموعي چي یووخت په یوه وړه مدرسه کي دمعلم اودمدرس په حیث پاتي شوي حقیقت دادي ځوك چي کامیاب معلم دي ،هغه به دقومونو لپاره کامیاب او موفق قائد اومشرهم وي یوناکام معلم د قوم لپاره قائد اومشرنشي جوړیداي .

کی دآزادی نوی پاڅون اوالجزایرکی دانتخاباتو په نتیجه کی دمسلمانانو کامیابی، په اردن کی دمسلمانانو کامیابی اوددنیاپه نوروملکونو کی چي اسلامی تحریکونو کوم لوت مونډل غرب دادلوی خطر په حیث ګڼی، دهغه نه ویره ساتي، دهغه دټکولو په فکرکی دی، دادهغوی مصالح تهدیدوی . بایدددی چاره ولټوی هداوجه ده چي نن روس اوغرب اودهغه په راس کی امریکا دافغانستان په وړاندی ګډدریځ لری. هغوی غواړی چي په هر قیمت باید په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس داسلامی حکومت دتاسیس نه مخنیوی وشی دوی حتی دژنیوډمعاهدی په دوران کی پخپلومنځونوکی سره موافق شول، هلته منصوبه داسی جوړه شوه چي دروسی قوځونو دوتلو سره سم باید دکابل رژیم نسکورنشی، حتماً جنګ تریوی مودی پوری ادامه وکړی. باید دمجاهدینو په خلاف دغسی اقدامات وشی چي هغوی ونشی توانیدلای چي دجنګ په میدان کی عسکری فتحه ترلاسه کړی دکابل رژیم راوپرځوی اوددوی حکومت جوړشی. بایدجنګ ادامه وکړی اوپه داسی شکل نه چي قاطع وی اودجنګ په دوران کی آخری فیصله وشی. جنګ باید داسی ادامه وکړی چي دهغه په نتیجه کی دکابل رژیم نسکورنشی، له هغی ورځی نه مجاهدین محاصری کی ونیولای شول. حسابو شپږکی دهغوی په خلاف همداسی اقدامات وشول، دمجاهدینو په خلاف تبلیغات پیل شول، اوهغه مجاهدین چي پرون به دآزادی دجنګ اتهرمانان بلل کیدل، دقاچاقبرانوپه نامه، دهیروئینوپه تجارت کی دملوثوکسانوپه نامه! داچي دنجیب دحکومت له پرځولو نه عاجزدی! داچي پخپلومنځونوکي په جنګونو ملوث دی! اودملك له اداری نه عاجزدی دیولوی حکومت له جوړولو نه ناتوانه دی داتبلیغات دهغوی په خلاف پیل شول.

اوس مسکواوواشنګټن په خپلو منځونوکی په دی خبره توافق کړی چي دنجیب دحکومت په ځای

پاپایدیومختلط حکومت، یوانتقالی حکومت راشی اوبیایوبی طرفه حکومت، د دغوبی طرفو شیروپرسرهم ددوی په منځ کی توافق شوی. دهغوی لست په ګوته هغوی جوړکړی، دهغوی دراوستلو لپاره لاری چاری پیداکوی، کوشش کوی چي دمجاهدینو له لاری هغوی راول. مجاهدین هم دهغوی په راتللو توافق وکړی، ول لله الحمدتراوسه پوری ددی توطئی دپل کولو اوعملی کولوپه لاره کی هغوی دسترو سترو خنډونو سره مخامخ دی دمنظمو اسلامی ځواکونو موجودیت، هغوی ته ددی موقع نه ورکوی چي خپل پلان په آسانی سره تطبیق کړی شی .

هغوی ددی کوشش وکړچي دامنظم اسلامي قوت په افغانستان کی تضعیف کړی، دجهادپه سوق اواداره کی دهغه رول اونقش ختم کړی. په ملت کی دهغه اعتبار له منځه یوسي اوددي په عوض قومی جرګی جوړی کړی دملت رهبری اوقیادت له تنظیمونونه همدغه قومی مشرانوته انتقال کړی. دخپل خوښی ځیری انتخاب کړی، بیا هغوی ته وسیع تبلیغات وکړی، له هغوی نه دانقلاب لوی لوی قهرمانان جوړکړی اوعملاً دهغوی مرسته وکړی، هغوی تقویه کړی اوبیادتنظیمونوپه خلاف له هغوی نه استفاده وکړی ول لله الحمدپه دی شوم مقصدکی هغوی ناکام شوی، پدی وسیعوتبلیغاتوسره اودجهادی تنظیمونوپه خلاف له توطئوسره سره ندی توانیدلی چي دتنظیمونو رول اونقش په جهادکی، دجهادپه رهبری، اداره اوسوق کی اودملت په رهبری کی ختم کړی، تضعیف یی کړی اوپه ملت کی ددی جهادی تنظیمونونفوذ اومحبوبیت له منځه یوسی ترڅوچي هغوی په دی کارنه وی توانیدلی دهغوی هیڅ طرحه هم عمل نده، هغه نشی عمل کیدلای. دوی ته دغسی یوقوی حزب لری چي هغه ته اقتدارحواله کړی اوله دی نه مطمئن وی چي ملك اداره کولای شی اونه هم دغسی یوشخصیت لری چي ددغه وجاهت په ملت کی هومره وی چي وتوانیدای شی یوحکومت سمبال کړی اودملت له تایید اوملاتړنه برخمن وی . دادهغوی لوی مشکل دی، په دوی پوری تړل دل شعیفی دی . په ملت کی یی اعتبارختم دی اوکوم کسان چي تراوسه هغوی ورته تبلیغات کړی هغه په ملت کی هیڅ وجاهت اواعتبارنلری . لله الحمد له فکری لحاظه اوس زمونږ په ملت کی دومره بیداری راپیداشوی، دچالپاره چي یوبهرنی طاقت تبلیغ کوی، ملت دهغه په حصه کی مشکوك وی اودهغه مخی ته دسوالیی یوه علامه ږدی، ول ؟ دادپردیو تبلیغات دیوچاپه نفع دڅه لپاره ؟ اودهرهغه طرف اوارخ په ارتباط چي دښمن منفی اودروالجهن تبلیغات کوی دهغوی له تبلیغاتو سره متناسب ددی اړخ محبوبیت په ملت کی زیاتیږی . بس دادملت مزاج دی، دیوانقلابی ملت سلیقه همداسی وی، مزاج یی همدغسی وی. په دغسی ملتونوڅوك له بهرنه دخپل خوښی قیادتونه نشی تحمیلولای له هغوی نه دخپل خوښی دخیرونه ددغسی قومونو لپاره دتبلیغاتوله لاری قهرمانان نشی جوړولای له بهرنه تحمیل شوی اوتپل شوی قهرمانان په هغوملتونوکی دقوم رهبری اوقیادت ترلاسه کولای شی چي په هغه کی دغسی یو انقلابی سلیقه اومزاج نه وی پیداشوی .

اوهغه ددغسی یوانقلاب له خم وپیچ نه نه وی تیرشوی. اوس دښمن له دی نه عاجزدی چي له بهرنه ورته قیادتونه جوړکړی . لله الحمددښمن توطئی تراوسه پوری ټول شنډی شوی اوهغه پخپل شوم مقصدکی ناکام شوی .

(دحشاروپرله پسی تکبیرونه)

زه مطمئن یم که نن واشنګټن اوماسکو پخپلومنځونوکی توافق وکړی چي افغانستان ته دمرستودلیږلو مخه ونیسي، دمرستو ارسال متوقف شی، نوداکاملاً دمجاهدینو په ګټه دی . دکابل رژیم دڅوورځولپاره هم نشی پاتی کیدای . دکابل رژیم په همغومرستو متکی دی چي هره ورځ له روسیي نه ورته راځي . ددی مرستونه پرته دهغه بقاممکن نده همداوجه ده چي مونږ دیردمخه لاددی پیشنهادکړی وو چي بهتره ده له بهرنه دافغانستان په داخل امورکی لاسوهنی بندی شی، دوسلولیږل متوقف شی، افغانان پریښودلای شی چي خپل سرنوشت پخپله وټاکی، دالټیی دحل لپاره چي کومه لارغوره کوی هغه اختیارکړی .

(۵مخ)

نبوي ارشاد

رسول الله صلي الله عليه وسلم اصحابوکراموته وفرمايل :

له اووهلاکوونکوشيانو څخه ځانونه وساتي.هغوي ويوښتل- يارسول الله داکوم شيان دي؟ ويي فرمايل : له خداي سره شرك ، جادو ،په ناحقه دچا وژل ،ديتيم مال خوړل،سودخوړل ،له جهاد څخه تښتيدل اوپرپاك لمنو مسلمانوښځوباندي تورلګول .

بخاري ومسلم

عاشورا دويرنه بلکي دعزم

خو دايه دردنه خوري نه بايد انسان پدي سره همت بايلي بلکي يکاريه چي ددي واقعي نه دعبرت درس واخلي،دحضرت حسين رضي الله عنه په نقش قدم پل.کيږدي ، دشهادت لاره غوره کړي،حسيني عزم په ځان کي پيداکړي اودهرطاغوت اوظالم په وړاندي ودريږي ،پري نږدي چي څوك دشاه اوخپلواك په نوم په اسلام لوبي وکړي ، دملت دخدمتګار په ځاي دملت بادار ځان جوړکړي .

بايه لندوټکوکي ځان غيرمسئول اوواجب الاحترام وګڼي ،لکه څنګه چي دظاهرشاه په اساسي قانون کي ليکل شوي و، پاچا غير مسئول اوداحترام وړشخصيت دي اوبايه نورو شاهي اوديکتاتوري نظامونو کي دغه پول جملي ليکل کيږي ، او همدا اوس هم شته ، يزيد هم له دي زيات څه نه ووکړي ،هغه ځان مسلمان ګاڼه ،په هيوادکي يي په اسلامي شريعت پريکړي کيدي ،خوحضرت حسين رضي الله عنه يوازي په همدي خاطر يزيد ته بيعت ورنکړ اويه ضدي توره راواخيسته چي يزيدځان غيرمسئول اوواجب الاحترام ګاڼه هغه څه يي کول چي بخده يي بايد ونه کړي، هغه ديو پاچا په حيث له خپل ټول فاميل سره ځان له قانون (شريعت) نه لوړګاڼه ، په اصطلاح قانون وغريبانو لپاره و، نه د شاهانو اوخانانو ،همدا اوس هم ډير دغسي کسان شته چي ځان دخداي او رسول له قانون نه لوړګڼي .

حضرت امام حسين رضي الله عنه چي کله دغه حالت وليد سره ددي چي پدي ښه پوهيده چي نتايج به يي دده لپاره داسي وي لکه چي وليدل شول،کيداي شي يزيد اودهغه ظالم عمال پري رحم ونه کړي،ډير واصحابو کراموهم هغه ته ددي مشوره نه ورکوله چي دوړوکي اوفاميلي لښکر سره ديزيد مقابله وکړي . کله چي حضرت حسين رضي الله عنه دکوفي په لور خوځيده حضرت عبدالله بن عمر اوحضرت عبدالله بن عباس ورته خوښه ورنکړه ورته وويل چي ظالم يزيد اودهغه وحشي عمال به دپيغمبردلسي په شهيدلو صرفه ونه کړي ،خوحضرت حسين رضي الله عنه هرڅه يوي خواته پريښودل ديولوي اوعظيم مقصد لپاره پرته له دي چي دځان اوکورني خيال وساتي ديزيد په وړاندي قيام وکړ ، کوفي ته لاړ اودکربلا سوځنده دښته يي په خپلو او دکورني دنورو غړو په وينو رنګينه کړه خو مسلمانانو ته يي دادرس ورکړ چي دظالم په مقابل کي بايد آرام پاتي نشي ،هغه دا ثابته کړه چي د اسلامي حکومت بنيادي خصوصيات دمسلمان امت لپاره دومره لوړه پانګه ده چي هرمومن بايد دهغي دساتلولپاره نه يوازي خپل سرورکړي بلکي داولاد اوکورني شهادت هم ورغمي ،په دغه لارکي که هرڅه له لاسه ورکړي بيا هم لږدي .

حضرت حسين رضي الله اسلامي امت ته دآزادي اوشهادت روڼ مثال بل کړ هغه امت ته دويراوغم ، ځان وهلو درس نه دي ورکړي ، دبياځان جوړولودرس يي ورکړي،هغه مؤمنانو ته دادرس ورکړي چي دغاصب اوظالم په مقابل کي اماده وي ، چانه دتسليم ګونډه ونه وهي مسلمانان اوس ددي په ځاي چي دحضرت حسين رضي الله عنه پرشهادت وير اوغم کوي بايد عمل وکړي . دحضرت حسين رضي الله عنه پرنقش قدم باندي روان شي ،دشهادت لارغوره کړي، داسلام دپوره واکمنو لو لپاره هلي ځلي پيل کړي ، پرينږدي چي څوك داسلام په نامه په اسلام لوبي وکړي ،دعاشورا ورځ دمسلمان لپاره دعزم نوي کولو ورځ ده ، ددغي ورځي په راتلو سره مسلمان بايد خمود اوجمود مات کړي ،ميدان ته راووزي اوداسلام دسرلوړي لپاره داسلامي شريعت دبشپړ حاکمولو لپاره هلي ځلي پيل کړي ، په مسلمانانوکي دوروولي،تساند اوهمکاري لپاره کار وکړي ، نه داچي ويروکړي،په وير اوماتم هيڅ درد نه دواکيږي ،که څوك رښتيا هم ځان د حضرت حسين رضي الله عنه دلاري پيرو بولي دهماغه په شان دي دظالم په وړاندي ودريږي . داسلام دحريم پاسداري دي وکړي دهغوظالموواکمنولاس دي لنډ کړي چي داسلام په نامه،په اسلام لوبي کوي .هغه حاکمان دي راوپرځوي چي ځان له قانون نه لوړ اوواجب الاحترام بولي .

لنډه داچي دعاشوراورځ دويراوماتم ورځ نه ده بلکي په اسلام کي يوه ستره اوداحترام وړورځ ده ،پدي ورځ زموږ علما بايد په غونډو اومجلسونو کي عوامو ته دعاشورا دورځي په هکله پوره معلومات ورکړي،دحضرت حسين رضي الله عنه دقيام په فلسفه يي پوه کړي،خلکو ته دا وښيي چي پدي ورځ بايد څه وکړي ، پدي يي بايد پوه کړي،حضرت حسين رضي الله عنه ددي لپاره ديزيد په وړاندي قيام کړي وو چي داسلامي حکومت اساسي بنيادونه په خطر کي وو

دملت حق غصب شوي و ،ملت دانتخاب حق نه

درلود بلکي شاه پخپل سر اوله قانون څخه ځان لوړګاڼه ،هغه رضي الله عنه په دي کار سره غوښتل چي اسلامي امت ته همدا درس ورکړي چي کله داسلامي حکومت اساسي بنيادونه له خطر سره مخامخ شي ، نوبيادحکومت په وړاندي قيام لازمي دي که څه هم پاچا يا رئيس ځان مسلمان ګڼي ،زموږ علما دامسئوليت لري چي عوام له بدعتونوڅخه منع کړي ، پدي يي پوه کړي چي دعاشورا په ورځ په قبرونو داويدا چول ، په زيارتونو کي ډوډي پخول ځان په ځنځيرو اوځنځيرونو وهل نه يوازي داچي ثواب نه لري ، حضرت امام حسين رضي الله عنه پري خوښيږي نه بلکي دا دهغه رضي الله عنه له لاري نه ډيرلري کاردي، الله دي موږ ته توفيق راکړي چي دامام حسين رضي الله عنه په لاره سم روان اوواقعي مسلمانان شو .امين يا رب العالمين

اعلان

به اطلاع تمام محصلين اکاديمي علوم اسلامي واقع درحيات آباد رسانيده ميشود که سال درسي جديد ان شاءالله به تاريخ ۲۵ /۸ /۱۹۹۰ آغاز ميګردد.

از تمام محصلين تقاضاميشود که به موعد معينه به صنوف خويش حاضرباشند.

اسلامي کنفرانس له عراق نه وغوښتل چي خپل پوځونه بي قيداوشرطه له کويټ نه وباسي

قاهره :

داسلامي کنفرانس غړوهيوادو دنيري شنبي په ورځ پرکويت باندي دعراقي پوځونوتيري وغانده اوله عراق څخه يي وغوښتل چي خپل پوځونه بي قيدوشرطه له کويټ څخه وباسي

دکنفرانس پدغه غونډه کي چي د عراق دستونزي په هکله پوقرارداد منظورکړ چي په هغي کي دعراق ددي اعلان په هکله چي له کويټ څخه به خپل پوځونه وباسي ويل شوي چي دپوځ ايستل بايد غيرمشروط وي

دپريکړه ليك په حق کي ۳۹ موافقي اوشپږ مخالفي رايي ولويدي .په مخالفينو کي عراق . سودان ، دفلسطين دآزادي سازمان ،اردن اوموريتانيا شامل دي .پريکړه ليك دکويټ دپخواني حکومت نه ملاتړ څرګند کړيدي .

***

درتصويرفوق ابوبکر رهبر ګودتاي ترينادا ديده ميشود که کابينه آن جزيره را تکان داد اعضاي کابينه در قبضه کودتاچيان قرارداشتند وبارهبرکودتا تعهد سپردند که انتخابات آزاد را انجام مي دهند پس از ازادي خيانت نموده عهد خود را شکستند وفرمان دار کودتا را ګرفتار نمودند. آري ملت کفرعهد وپيمان ندارد قابل ياد آوريست که ترينادا د جزيره يي ازجزايرکارابين واقع در قاره امريکا مي باشد داراي اقليت مسلمان است .

دمحصلينو دوي نوي حوزي پرانستل شوي

دنيرکال دحوت په مياشت کي دارولو په کمپ کي دشهيد عبدالرب احدي په نامه دمحصلينو يوه حوزه پرانستل شوه او مسئولين يي دانتخاباتو په نتيجه کي پدي پول وټاکل شول

۱ - محمد حليم دناظم په حيث .

۲- ګل رحمن دمرستيال په حيث .

۳- ضياء الرحمن دمالي مسئول په حيث .

٤- محمد قاسم د فرهنګي مسئول په حيث .

٥- فضل الرحمن دارتباط مسئول

٦- محمد قاسم شهاب دکنفرانسونو مسئول .

همدارنګه دسرطان په ۱۵ دکيجوړويه کمپ کي يوه غونډه وشوه اودسعدابن ابي وقاص دحوزي نوي مسئولين دانتخاباتو په ترڅ کي په لاندي پول وټاکل شول

۱- ورور لطف الرحمن دعمومي ناظم په حيث .

۲ - ورور رحيم الله مرستيال .

۳- ورورمحمد ولي داطلاعاتو مسئول .

٤- ورور سيدمعصوم دارتباط مسئول

٥- ورور خان زمان دفرهنګي مسئول .

٦- ورور حشمت الله دفرهنګي مرستيال .

۷- ورور احمدشاه دمالي مسئول .

۸- ورور محمد انور دتدوير اجتماعاتو مسئول .

دختيز او لويديز آلمان ترمنځ دانتخاباتو تړون

برلين : دنيري پنجشنبي په ورځ د زمري په پورلسمه نيټه دختيز اولويديز الماني ترمنځ دانتخاباتو تړون لاسليك شو، ددي تړون له مخي به له دويم نړيوال جنګ وروسته په متحده المان کي انتخابات ترسره کيږي دانتخاباتو نيټه دروان عيسوي کال د سمبر(۲) ټاکل شوي ،دتړون له مخي هغه ګوندونه کولاي شي پارلمان ته لارپيداکړي چي لږترلږه په سلوکي پنځه رايي ترلاسه کړي .

ديويل خبر له مخي پريکړه شوي چي دمتحده المان پايتخت به دبرلين ښاروي.

دورکي اعلان

دشمشتودلين په پوښتنوموټرکې ديو وروړلاسي بکس پاتي شوي ، په نوموړي بکس کي دملك ملهي دزوي ذبيح الله په نامه پاسپورت اوځيني نوراسنادهم شته . که هرچاالخښتي وي داسلامي وروردول له مخي دي په لاندي پته وسپاري .

دحزب اسلامي دمالي رياست دخدماتو په آمريت کي مولوي قوت خان ته اويانوي اوي ته نږدي دامام اعظم مدرسي په اداره کي مولوي زورخان ته .

دنوم بدلول

د آدم ګل زوي حسين ګل دپکتياولايت دسيدکرم ولسوال اوسيدونکي چي اوس په کويټه کي دزيږورولتون دلوړاوسټونې متخصص دی خپل نوم په نصرت الله بدل کړي . له دوستانوڅخه هيله کوي چي له دي وروسته دی حسين ګل دنصرت الله په نامه وپيژني .

خوشحال يا عبدالرحمن

برادرخوشحال فرزندصالح محمد ازاهالي شهرتالقان مرکزولايت تخارفعلاً باشنده نصرت مينه شمشتو، اسم عبدالرحمن رابعوض خوشحال برخودپسنديده است .

ازبرادران ودوستان آرزومنداست تابعدازين ايشان را بنام عبدالرحمن خطاب فرمايند.

***

په کويت کي عراقي پوځ بوټانګ

په خليج کي دامريکا بحري بيړي دکويټ په لورروانه ده

انتخابات تنظيم طلبه ديني دردارالعلوم ربانيه خاتمه يافت

رابور واصله از پشاور حاکيست که بتاريخ ۳۰/ ٤/ ۱۳۶۹ جلسه پرشکوهي در دارلعلوم ربانيه شيدوبمناسبت انتخاب کارکنان تنظيم طلبه ديني حزب اسلامي افغانستان داير ګرديده بود.

جلسه ساعت ده بجه صبح با تلاوت آياتي ازکلام الله مجيد آغاز ګرديده متعاقباً برادر سيد محمد "حقيار" مسئول حوزه نعمان بن ثابت وچند تن ديګر ازعلما ودانشمندان پيرامون جهاد و رول علما درروند جهاد افغانستان روشني انداختند .

پس به اساس انتخابات آزاد برادر نصرالله بحيث ناظم اعلي وبرادرامير الله بحيث معاون وبهمين ترتيب ساير مسئولين انتخاب ګرديدند همچنان بتاريخ ۲/ ٥/ ٦۹ درمدرسه دارالقرآن نور ذهيري برادر عبدالهادي بحيث ناظم اعلي وبرادر رحيم الله بحيث نائب ناظم انتخاب شدند .

قابل توجه علاقمندان تدريس درپوهنتون

پوهنتون دعوت وجهاد دررشته هاي فزيك ، کيميا ، رياضيات ، بيالوجي ،جغرافيه ، تاريخ ، دري ،پښتو ، انګليسي ،طب و انجنيري به استاداني ورزيده که داراي شهادتنامه هاي ماستري وداکتري باشند ضرورت دارد . کانديدان داراي شرايط فوق تا تاريخ ده سنبله ۱۳۶۹ ه . ش با اسناد دست داشته به پوهنتون مراجعه کنند.

آدرس: معاونيت علمي پوهنتون دعوت وجهاد

کمپ جلوزي - چراټ روډ - هجرت کلي

شهادت

بيانګرعقايد وآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

موسس : انجنير حکمتيار

صاحب امتياز : حزب اسلامي افغانستان

ناشـــــــر: رياست ارشاد وفرهنګ

ســال تاسيس : ۱۳٥۷ هجري شمسي

تحت نظرهيئت تحرير.

کابينه نظامي کويت اعلان ګرديد

بغداد :

طبق ګزارش روزنامه فرنتيرپوست روزشنبه تلويزيون بغداد لست نه نفر افسران نظامي را اعلان نموده که ايشان کابينه حکومت موقت آزاد کويت را تشکيل ميدهند منبع علاوه مي کند تلويزيون مذکور چهره افراد مذکور را نشان نداده وايشان نيز ازجمله شخصيت هاي اجتماعي کويت نمي باشند .

منابع ديپلوماتيك عرب مقيم خليج که درمورد کويت معلومات بهتر دارند کابينه موقت کويت را فريبکاري تلقي نمودند ديګران اصرارنموده اندکه ايشان عراقي هاي ميباشند که شامل اردوي مهاجم بوده که صدام حسين آن را به کويت سوق داده بود .

درراس اين کابينه دګروال حسين علي قراردارد . که پست هاي صدارت ،قوماندانی عمومي نيروهاي نظامي ،وزارت دفاع ووزارت داخله رابعهده دارد .

دشهيدرسول خان دحوزي محصلينو انتخاباتي غونډه جوړه شوه

څوموده دمخه په يکه غونډکمپ کي دشهيد رسول خان دحوزي محصلينو يوه غونډه جوړه کړي وه چي غونډه دقرآن عظيم الشان دڅوآياتونو په لوستلو پيل او وروسته پوتن محصل خپله جذابه وينا اورپيدونکوته واوروله اومحصلين يي خپلو سپارل شويو دندو ته متوجه کړل .

اودغونډي په پاي کي دمحصلينو دحوزي انتخابات پيل اويه لاندي پول اعلان شول .۱- ورور احمد خان دناظم په توګه

۲- ورور نورخيل دنائب په توګه

۳- وروعبدالمنان دارتباط مسئول په توګه .

٤- ورور بشيراحمد دمالي مسئول په توګه .

٥- ورور عبدالولي دفرهنګي مسئول په توګه .

٦- ورور محمدخطاب داداري مسئول په توګه .

۷- ورور عبدالوکيل دپروګرامونو دمسئول په توګه

۸- معشوق خان داطلاعاتو مسئول په توګه .

او ورور عتيق الله ،محمداصف دشوري دغړو په توګه انتخاب شول .

تظاهرات اهل کسبه درکشمير اشغالي جريان دارد :

دهلي جديد :

تظاهرات تاجران وکارکنان وسايل حمل ونقل درجامووکشميراشغالي بنظرميرسدکه به اغتشاش وبي نظمي ګسترده وکامل مبدل ګردد.

دافغاني :

دسرحدي صوبي پوعالم مولانا محمد ايوب بنوري وويل : پدي حالت کي چي هلته دميسکولاسيوځي حکومت شته اويه افغان ولس بي کچه ظلمونه روان دي څنګه کيداي شي مهاجرين بيرته لاړشي اوځان په امن کي وګوري .

همدارنګ دپاکستان نوروسترو وسترو علماؤ د مهاجرينو دبيرته تلو پروګرام وغانده اودايي د زبرحواکونو ګډ سازش وباله .

شوراي امنيت ...

فيصله نامه به شمول پنج کشوردايمي شوراي امنيت ملل متحد به استثناء کيوبا ويمن به اتفاق آراء به تصويب رسيد .

ګورباچوف ...

رهبرشوروي عنقريب ازهند ديدارنمايد.

درين ديدار موافقت نامه هاي جهت ازدياد وتوسعه روابط وهمکاري هاي علمي ،اقتصادي وسايرموضوعات مورد توجه طرفين امضا ګردد.

پوست بکس : (۱۰۲۸)
يونيورستي تاؤن پشاور
تلفن نمبر : ٦۳۷۸۹ - 30224 پشاور